## د میریډیان د نړیوال مرکز پیغام

زه په هغو ټولو ته د خپلې مننې اظهار کوم چا چې دا نندارتون ممکن کړ. زه غواړم چې د استازي کارل ایکنبیري او په کابل کښې د عامه چارو د څانګې کارکوونکو ته د دې نندارتون په دایرولو او د دې د جوړېدلو په هره برخه کښې د هغوي مرستې لپاره خپله ځانګړې مننه وړاندې کړم.

د متحده ایالتونو او افغانستان ترمنځه د اړیکو تاریخ او پراخوالی یوه داسې موضوع ده چې نن سبا ورته زیات پاملرنه نه کیږي او نه یې قدر کیږي. ډېر هغه د پام وړ عکسونه چې تاسې به یې ووینئ، نه یوازې زموږ د دولتونو ژمنه څرګندوي بلکه د امریکایي او افغان ولس ترمنځه یو پیاوړې اړیکه هم څرګندوي.

میریډیان نړیوال مرکز دې وړاندیز ته ژمن شوی دی چې کلتوري تبادله د خورا ډېر دوه اړخیز پوهاوی لپاره د پارونکی په توګه کارول کیدای شی. زموږ "هنر د کلتوري ډیپلوماسی لپاره" پروګرام په وسیله میریډیان په هېواد کښې دننه او بهر ونډه والو سره له نژدې څخه کار کوي چې یو داسې بې سارې او په زړه پورې د لید وړ توکی رامنځته کړی چې قصې بیان کړی او پلونه جوړکړی.

دا نندارتون څرګندوي چې امنیت د هغه ډېرو تارونو نه یو داسې تار دی چې زموږ ګډ تاریخ سره اوبدي. کرهنیزه او وټه ایزه پرمختیا او پوهنیزی تبادلې هم مهم مطالب دي. په دغه انځورونو کښې چې موږ کوم افغانستان وینو یو داسې هیواد څرګندوي چې د یوروشیا او د هند د وړی وچې په څلورلارې باندې د دود، ویاړ او بې سارې کلتور احساس لري.

زه باوري یم چې کوم امریکایان او افغانان دا نندارتون ګوري باید زموږ د اړیکو تاریخ په غوره توګه درک کړي او داسې نوې اړیکې به جوړې کړي چې د هغې بنسټونه په شلمه پېړۍ کښې اینودل شوي وو. زه هیله مند یم چې په اینده کښې به نوي انځورونه ور زیات شي چې په ۲۱مه پېړۍ او له هغې اخوا زموږ د ولس او خلکو ترمنځه دوامداره دوستي په تاریخ کښې ثبت کړي.

په اخلاص،

سټوورټ هالي ډی
رییس او مشر اجراییوی افسر
میریډیان نړیوال مرکز